


د مولانا سعید افغاني :آزاده ، ټولنیزه،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# نجم الرحمن « مواج »

د نشر نیټه : 10 جون 2017 م

# د مضمون مزه

توره جګړه یووړه دژوند ون مزه
نن سبا ارمان کی د پرون مزه
خوړ د کړکیچونوپسی واخیستو
ورک شولوګودر، ورکه دیون مزه
لاس تړلی پاتی له کاروانه شوو
مرګ کومه کړه تېره د سمون مزه
هره ماته ګوډه سـمولای شي
یووړوغاصبانو د قا نون مزه
اورلړونی کړو دځانځا نی تنور
خوند لری له مینی ډک ترون مزه
توره لړه پای ته رسول غواړو
ډېره ده خوږه د سباوون مزه
شکل سره وران وم او، وران پایمه
ما مواج ته ښا یی د مضمون مزه
***
نجم الرحمن « مواج »
د غویی پنځلسمه۱۳۹۶

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org